# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com


| سیاسی | Political |
| --- | --- |


هارون خیل شعشعی

۱۱/۰۲/۰۷

## د افغانستان له « مُبارکانو» سره به څه چال چلند کیږي؟

د نړۍ خلک له څو اوونیو راهیسي په تونس او مصر کي د ولسي پاڅون داسي زوروري اوپیاوړي ځپې ګوري، چي اغیزې یې د سترګو په رپ کي لـه أردون او یمن څخـه نیولي تر سـودان پوري ولیدل سوې . نـړۍ والو، د افغانـستان د مجاهد ولس د وینـو او سرښـندونو پـه بیـه تـر۱۹۸۹ع کـال وروسـته پـه بېلابېلـو هیـوادوکي د روسـي استعمار د لاس پوڅو رژیمونو د نړېدو لړۍ ولیده؛ اد دئ نن پـه یوه بېلـه بڼـه د غربـي استعمار د مزدورو، ولسي ضد حُکومتو د را نسکورېدو شېپې او ورځي ویني .
په تونس، مصراو داسي نورو هیوادوکي د ملي ضد مستبدو او زورواکو رژیمونو د واکمنیو له امله لوږه، ګرانـي، بېکاري، فساد، ظُلم او بـې عدالتي اسمان تـه رسېدلي ده . پـه فکري او فرهنګي برخوکي حـالات تر دې هم ډېر دردنـاک او خواشـینونکي دي . ټـولي نـړۍ تـه مالومـه ده، چـي د دواړو هیـوادو واکمنوکړییو پـر ملـي او اسـلامي غورځنګونـو تـوره شپـه راوسـتې وه؛ هیچا د واکمنو رژیمو د خروړو پولیسو او بدنامو استخباراتي مأمورینو لـه بیري خوله نسوای خلاصولای؛ هرچا چي د خپلو روا او انساني حقوقو غوښتنه کړې ده یا محبسونه پـه ډک سوي؛ یا په پردو هیوادوکي پردېسي او جلاوطنی ته اړ سوي دي . عجبه خودا چي د بشري حقوقو، ډیموکراسي، شفافیت او قانونیت غربي ډنډوره چیانو دتونس، مصر او ځینو نورو تش په نامه، میراثي جمهوریتو د دیکتاتورو رژیمو تر کرغېړن سیوري لاندي د خلکوادا بدي او غمجني ورځي د سر په سترګو لیدلي؛ خوسره له هغه یې هم د بن علي او مُبارک د مستبدو او بشري ضد رژیمونو له سیاسي، پوځي او اقتصادي ملاتړه لاس نـه اخیست . البتـه، د غربـي نړۍ په سیاسي تاریخ کي د داسي رژیمونو شمېر لږ نـه دئ، چي د استعماري ځواکونـو د پوځي، سیاسي او مـالي مرستو پـه زور یـې د میلیونو انسانانو پـه ژوند او مقدراتو لـوبي کړي دي . د ایران پاچا- محمدرضـا پهلوي، د اندونیزیا فاسد او فرتوت حُکمران - سوهارتو، د چیلي پوځي دیکتاتور- جنرال پینوشي، د پاکستان پوځي واکمن - جنرال ضیاء الحق او ډېر نور له دغه راز واکمنانو څخه وه، چي د نړۍ ټول خلـک یې لـه زیندی کوونکو انساني ضد سیاستونو سره پوره آشنایي لري .

تر لمر روښانه ده، چي استعمارگران دربرېدلو ولسونو د خوښی، سوکالی، بشري حقوقو او آزادیو هیڅ پروا نه لري؛ هغوی ته یوازي او یوازي خپلي ستراتېژیکي گټي او هدفونه مطرح دي؛ هر چا چي د دغه راز ملي ضد گټو او پلانونو په تحقق کي له دوی سره یاري او انډیوالي وکړه، د دوی تر ټولو ښه دوست، ملگری او متحد دئ .

داچي په تونس، مصر، اُردن، یمن، مراکش، الجزایر، لیبیا، سوریي، ایران، سودان، چلتار تړلو شیخانواو نورو جابرو هیوادوکي به د تېل سوو، فاسدو اوستمگرو رژیمونو کمبله کله په بشپړه توگه ټولیږي، په واقعیت کي د دغو هیوادو په کورنیو تضادونو، د واکمنو رژیمونو په کورني او بهرني ملاتړ، د مخالفینو په هوښیاری، ویښتوب، یووالي او غښتلوالي پوري اړه لري . په دې باید باور ولرو، چي دا پاځېدلي او پارېدلي ولسونه بـه، کـه نن وي کـه سبا، خپلو ملي او ولسي هدفونو ته رسیږي؛ ځکه خلک له اوسني دردناک او غملړلي ژوند څخه ستړي سوي دي؛ او د نړی هیڅ ځواک د ولسي پاڅونو مخه نسي نیولای .

تر دې ځایه د نورو ملتونود ولسي قیامونو خبره وه، چي د خپلواکو او زړورو افغانانو په گډون یې د نړی ټول ملي او دیموکراتیک قوتونه، د زړه له کومي ننگه او ملاتړ کوي؛ خو زمونږ کړېدلو افغانانو په وړاندي مهمه او اساسي پوښتنه دا ده، چي دی غم ځپلي هیواد ته به د دغه راز ولسي پاڅونونو سرکښي او توپاني ځپې کله اوښتگه را رسیږي؟ مگر موږ تر هر بل ملت دغه شان ملي او ولسي پاڅون ته اړتیا نه لرو؟ زمونږ ټوک ټوک او ربړېدلي خلک به څنگه له لوږي، وزگارتیا، فساد ، خیانتونو ، بي عدالتیو ، لاس پوڅو او خپلسرو واکمنانو او تر ټولو مهم د رواني دېرش کلني جگړې له تباه کوونکو لمبو او ډول ډول کړکېچنو څخه ژغورل کیږي؟

مخکي تر دې چي د افغانانو پر ولسي پاڅون څو لنډي خبري وکوو، لازمه ده د دې پاڅون پر تاریخي اړخونو یو څه رڼا واچوو. د افغانستان د ژوندي تاریخ ترخو واقعیتو ته په پام سره، هیڅ حقپال او هیوادپال افغان د دې خبري په سموالي او ریښتیاوالي کي شک نه لري، چي بېلابېلو زورواکو رژیمونوله تېرو یودېرش کالو راهیسي خلکو تـه د سر په کاسه کي اوبه ورکړي؛ هیڅ واکمن رژیم نه یوازي دافغانانو غمجنو او تاریکو جونگړو تـه د خوشالی او نېکمرغی زېری نه را نه وړ، بلکی په ټول هیواد او سیمه کي یې د جگړو، نا‌ارامیو او دوښمنیو په خپرولو سره د هغوی د بېوزلی او غریبی یوه گوله ډوډی یې هم په خاورو او وینو ور ولړله .

مظلومو افغانانو د خلقیانو، پرچمیانو، توپکیانو او طالبانو سختي او ستوغي تېري کړي؛ خو لـه هغي ورځـي څخـه چي د امریکایانو په مشری ایتلافي لښکرو زمونږ پر ویاړلي مېنه پوځي یرغل کړی؛ او د خپل بـي ارادې، فاسد او بي کفایته گوډاگي، حامد کرزي، په مشری یې د جنگي جنایتکارانو، ورانکارو ، جهاد پلورونکو، جاسوسانو او ډول ډول مافیـایي ډلـو تپلـولـسي ضـد نظـام جـوړ کـړی دئ، زمـونږ پـه غملړلـي مېنـه کـي د خلکـو دکړاوونـو او مصیبتونو بله نوې او ډېره خطرناکه لړی پیل سوې ده.

د څه د پاسه یو نیم لک ایتلافي پوځ له توپ و ټانک سره سره، په هیواد او سیمه کي د جگړې لمبې لا پسي پراخیږي؛ د ایتلافي قـواوو هـوایي بمباریـو او مځکنیـو وحشیانه عملیـاتو، د وسلـه والـو مخـالفینو ړنـدوانتحاري بریدونو اود هیواد په گوټ گوټ کي د مزدورو واکمنانو غلاوو، خیانتونو، زور زیـاتیو اوبـي کفایتیو خلک پزي تـه رسـولي دي؛ د شـپږ څلوېښت هیـوادو د پرمختللـو او مجهـزو پوځـونـو د توپـک او برچـي تـر سـېوري لانـدي، افغانستان د تریاکو د تولید له اړخه په ټوله نړی کي لومړی او د فساد له اړخه، دوهم مقام لري .

خلک په خپله قضاوت کولای سي، په هغه ملک کي به د فساد، خیانت او چور څه حال وي، چي په اصطلاح مشر یي د غلو، قاتلانو او جاسوسانو په خبر، د الوتکي په کابین کي، له پردو هیوادو څخه د نغدو پیسوکڅوړي اخلي؟ د تش په نامه جمهوري ریاست او پارلمان د شرمېدلو انتخاباتو ډرامي خو هم د نړی ټولي خلکو ولیدې؛ د خاینو

اوجنايتکارو زوروواکانو له خوا د دولت او عام ولس د ميليونو جريبه مځکو د غصبولو مسأله هم د پټېدو خبره نه ده. د کرزی د مزدور حکومت د بي کفايتيو او شرموونکو کړنو ليست دونه اوږد دئ، چي بيانول يي دلته نـاممکن کار دئ . تاسي په خپله وګورئ، د ارګ مزدور فاسد او بي زړه واکمن ، په هيواد کي د راز راز خونړيو پېښو په وړاندي يوازي داپيغام خپروي : « جمهور رييس د پېښي عاملين وغندل؛ او د کمېسيون په جوړولو سره يي د پلټنو امر ورکړ. »

په نورو هيوادو کي مو هم د فساد، خيانت او بي کفايتی خبري اورېدلي دي؛ خو هغه څه چي د ېرغلګرو پوځونو او د کرزي د مزدور حکومت تر واکمنی لاندي ګورو، تر حد او اندازي وتلي خبري دي .

په هيواد کي د بي عدالتيو د يوه کوچني مثال د ليدو له پاره د کابل د عامو ښاريانو جونګړي او کورونه له هغو جګپوړو ښبڼه يي وادنييو، تجارتي مرکزونو او کوټيو سره پرتله کړئ، چي د افغانانو په وينو جوړ سوي دي . د جهاد له سوداګرو او د وطن پلورني له ټولو دلالانو څخه بايد پوښتنه وسي، چي دا لوی ښارګوټي، پرتميني مانی، بانکونه، شرکتونه، نوي او مفشن موټرونه، او ډول ډول ثروتونه يي له کومه ځايه پيدا کړه؟ مګر د افغانستان له وينو او هوښياروخلکو څخه د دي بي ايمانه او بي وجدانه سوداګرو پروني حالت پټ دئ ؟!

د دين او وطن د دلالانو دا عيش و نوش، دا لوړ او مجلل عمارتونه نه يوازي د دوی د چور او چپاو، بلکي د دوی د بهرنييو بادارانو ياني کي . جی . بي، سي . آی . اي ،. آی . ايس . آی . ايرانـي، سعودي او نـورو کرغېړنـو استخباراتي شبکو پر نه بخښوونکو جنايتونو او تورو نخشوهم شاهدي ورکوي . هيچا په تاريخ کي د جهاد او هيوادپالني له لاري مانی او شتمنی نه دي موندلي .

د دين او وطن په لاره کي جهاد او مبارزه يوازي د سرښندني او قربانی کار دئ، نه د شتمنيو د لوټولوکاروبار . زموږ غيرتمنو، مجاهدو او باغروره وطندارانو د هيواد د خپلواکۍ او ناموس ساتني په لاره کي خپل هر څه له لاسه ورکړه؛ خو د جهاد دروغجنو ټيکه دارانو او نورو خاينو سياسي سوداګرو د دين اوايمان پلورني په دې بازارکي ډېري ګټي وټي وکړې؛ او لا لګيا دي په بي شرمی او سپين سترګی سره دي انساني ضد عملونو ته دوام ورکوي .

که څه هم په تونس، مصر، مراکش، الجزاير، ليبيا، سوريي، أردن، يمن، سودان، چلتارو ترلو عربو، ايران او ډېرو نورو مستبدو او فاسدو هيوادوکي عام خلک د ژوند په ټولو چاروکي له لويو ستونزو او ناخوالو سره مخامخ دي؛ خو سره له هغه هم هيڅ هيواد په انسان وژنه، زور زياتی، توپک سالاری، ورانکاری، وطن پلورنه، قومي نفاق،تورکاروبار، چور، فساد، لوږه، بېکاری، بېوزلی او نورو سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي کړاوونو او ناخوالوکي زموږ د ټولني وحشتناک حالت ته نه رسيږي . په داسي شرايطو او حالاتو کي، پوښتنه دا ده، چي ولسي پاڅون بايد لومړی په تونس، مصر يا نورو مستبدو هيوادوکي وسي،که زموږ په غم ځپلي او اشغال سوي هيواد- افغانستان کي؟

جواب ځرګند او روښانه دئ . زموږ په وينو سره خاوره بايد تر هر ځای مخکي د دغه راز ولسي پاڅونو د زېږولو او بريالي کولو لومړنی ټاټوبی وای . تاريخ شاهد دئ، چي همداسي هم وسوه. ټولي نړی ته مالومه ده، چي زموږ زړورو او ميړنيو وطندارانو له يو ډېرشو کالو راهيسي د ظلم او تېري په وړاندي خپل اتلوال مقاومت پيل کړی دئ . د دي حماسه جوړونکي مقاومت په لومړي پړاو کي د ېرغلګرو روسانو لاس پوځی نظام له منځه لاړ؛ په دوهم پړاوکي د پاکستان اووګوني او د ايران اته ګوني مزدور تنظيمونه يو يو تر شرمناکو ماتو وروسته له سياسي ډګر څخه و شړل سوه؛ د ځينو مشران کولاب، د ځينو مشران ايران او د ځينو نورو سرغنه پاکستان،

عربي ملکونو او د نړۍ نورو هیوادو ته وتښتېده. زموږ د ننګیالیيو خلګو دا مقاومت د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هم، په یوه بڼه بڼه جاري ؤ.

د مقاومت بل پړاو هاله پیل سو، چي د امریکا او انګرېز پرغلګرو پوځونو زموږ د خاینو او جنایتکارو جنګي ډلوټپلو په مرسته، پر ګران افغانستان وسله وال برید وکړ. البته، د طالبانو د واکمنۍ په را پرزېدو به یوازي طالبان او دهغوی بهرني انډیوالان خوابدي سوي وي؛ خو زموږ د پلرونو او نیکونو پر ویاړلي خاوره د پردو لښکرو د وحشیانه یرغل له کبله، د هر خپلواک او بې پرې افغان د کرکي او مخالفت احساسات را وپارېده . د پردو پوځونو د ظالمانه تېریيو او د هغو د مزدور حکومت د ډول ډول ناروا وو په مقابل کي زموږ د خلګو مقاومت تر اوسه په خورا شأن او برم سره جاري دئ .

د رژیم وسله وال مخالفین له څه دپاسه نهوکالو راهیسي په مخامخ جګړو، انتحاري بریدونو او نورو تروریستي عملونو سره خپل مقاومت ته دوام ورکوي؛ خو سره له هغه هم په هیواد کي د وینو، اوښکو او تورتم داستان ختمېده نه لري . له دې څخه په څرګنده برېښي، چي وسله وال مقاومت په یوازیتوب سره، زموږ ملي او ولسي مسألي نسي حلولای . عام خلګ، که څه هم، د خپلو او پردو له ظالمانه تاړاکونو او رنګارنګ ناکردو څخه سخت ګیله من او خروښېدلي دي؛ خو بیا هم یوازي د وسلي او باروتو پر منطق باور نه لري؛ ځکه همدا اوس د وسله وال مقاومت په ځینو ړندو بمونو او انتحاري بریدونوکي زموږ د بې ګونا هیوادوالو وینې توییږي . بله خبره لا دا ده، چي عام خلګ د وسله وال مقاومت په مشرتابه او لیکوکي د مغرضو پردو پراخ نفوذ ته هم د شک او ګومان په سترګه ګوري . تر دې چي ور تېرسوبله مهمه خبره تېرو ترخو تجربو ته په پام سره د هیواد د راتلونکي اداري له پاره د اوسني وسله وال مقاومت د صلاحیت او کفایت مسأله ده، چي یوه او هوښیار خلګ یې ملګرتوب او پلوي نسي کولای .

دا خبره سمه ده، چي د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د هغو تر واک لاندي سیموکي ارامه ارامي وه؛ طالب چاړواکي په فساد او نورو ناروا عملونو ککړ نه وه؛ خو په مذهبي او کولتوري برخه کي د هغوسخت او افراطي دریځ او د هیواد د پېچلو سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي چارو د تنظیم او اداري له پاره د یوې معقولي او علمي کرنلارې د نه لرلو په وجه، څوک د هغو فعالي مرستي او سیلي ته زړه نه ښه کوي . د وسله وال مقاومت نوري ډلي هم له دې امله، چي په خپلو مبارزو کي یوازي د توپک او برچې پر منطق تکیه کوي، د خلګو رینښتیني خواخوږي او همدردي نه لري .

په دې ډول ګورو، چي د هیواد له اوسني خونړي او نه زغمېدونکي حالت څخه د وتلو یوازنۍ لار د تونس، مصر، یمن او داسي نورو هیوادو په څېر، د سوله ییز ولسي پاڅون لاره ده. ټول ښوزلي او ځوربدلي افغانان ( نارینه او ښځي، زاړه، واړه او ځوانان ) له قوم، ژبې، مذهب، سیمي او نورو اړیکو پرته د ظُلم، زورزیاتي، لوږي، بېکارۍ، فساد، بې عدالتۍ، جګړو او ناارامیيو پرخلاف د مبارزې په یوه واحداو نه بېلېدونکي مورچل کي ولاړ دي؛ او په خپلو وینو او سرونو سره حاضر دي، چي په هیواد کي د یوه خپلواک، ملي او ولسي نظام د جوړولو له پاره د اوسنیيو « مُبارکانو» ګرېوانونو ته لاس واچوي؛ په هیواد کي د جګړو او ورانیيو مخه ونیسي؛ او په پای کي د پردو پوځونو د ایستلو له پاره معقول اقدامات وکړي .

د کابل د مزدور رژیم له څو جنایتکارو اوخاینو جنرالانو، قومندانانو او توپک سالارانو پرته، د هیواد د اوردو، پولیسو اواستخباراتو ټول کارکوونکي د دې خاوري اصیل بچیان دي . شک نسته، چي هغوی به هم د هیواد او خلګو د ژرغوني په دې ستر ملي رسالت کي د افغان ولس تر شا ودرېږي . طالبان، اسلامي حزب، د حقاني ډله او

نوري وسله والي ډلي هم باید د خلکو په دې ستر حماسه جوړونکي سوله ییز سراسري پاڅون کې برخه واخلي؛ ځکه دغه راز ستر او ځواکمن ولسي پاڅون زموږ ټولو کړېدلو افغانانو د ژغورني لنده، آسانه او معقوله لار ده . افغانان باید د خپل زړورا و بې باکه مقاومت په دې پړاوکې، د بمونو او باروتو پر ځای د خلکو پر غښتلي او پر شا نه تلونکي ملاتړ حساب وکړي . په دې ستره ملي او تاریخي حماسه کې به نه یوازې زموږ خپلواک، باغروره او مېړني هیوادوال اوږه په اوږه مبارزه کوي، بلکې د نړۍ ګرده سوله دوست او آزادي غوښتونکي ولسونه به هم زموږ تر څنګ ولاړ وي .

وروستۍ پوښتنه دا ده، چې څوک به د داسي ملي او ولسي پاڅون د لارښووني مسوولیت او رسالت پر غاړه اخلي؟ ځکه زموږ د ولسي پاڅون د بریالیتوب لـه پاره پر عیني شرایطو ( جګړې، ناامنۍ، لوږې، بېکارۍ، فساد، بې عدالتۍ او نورو ناخوالو) سربېره د ذهني شرایطو چمتووالی هم ضروري خبره ده . خلـک باید پـه دې واقعیت ښه پوه وي، چې له یوه پراخ او پرله پسي سوله ییز پاڅون پرتـه یې د ژغورني بلـه هیڅ لار نسته؛ او پـه دې لار کې سربښندونو، کړاوونو او ناخوالو تـه هم غاړه کښېږدي . د غورځنـګ لارښوونکي او مخکښان هم باید پـه دې پوه وي، چې څنګه د ګردو افغانانو پیاوړی او غښتلی ملاتړ له ځانه سره وساتي؛ او له بېلابېلو خنډونو او موانعو سره په متانت مبارزه وکړي؛ څنګه د ولسي پاڅون په بېلابېلو پړاونو کې د خلکو د ناموس، ځان او مال ساتنه وکي؛ او بالاخره څنګه د بریالیتوب پر مهال د چارو واګې په لاس کې واخلي .

که څوک فکر کوي، چې له افغاني فرعونانو څخه د ټولني د ژغورني پرېښتې به له امریکا، اروپا، کاناډا، استرالیا یا نورو بهرنیو هیوادو څخه راسي، پـه ریښتیا سره تېروتلي دي؛ ځکه پـه دغو هیوادوکي مېشت سیاست وال، پوهان، محققان، لیکوال، شاعران، هونرمندان او داسي نور منور کسان پر خورا ډېرو ډلو او ډلګییو ویشل سوي دي، چې هره ډله او ډلګۍ یې خپلو ځانګړو موخو او مقصدونو تـه کار کوي . لـه څو بې وسه اوبې کسه ملي شخصیتونوپرته چې د وچې کلکي مجبورۍ پـه حُکـم دلتـه ناسـت دي، د در واغجنـي « روشـنفکرۍ » او «هیوادپالنۍ» ډېری مدعیان په یوه او بل ډول د استعمار په چوپړ کې ولاړ دي؛ د هیواد او خلکو تر ژغورني د خپلي خیتي، نفس، شهرت، او شتو راضي ساتل اوچاغول ډېر پرګران دي . په دې ډلو کې ځیني کسان دونه بې زړه او ډارن دي، چې د خپلو خلکو او هیواد په وړاندي راز راز ظُلمونه او ناروا وي د سر په سترګو ګوري؛ اما بیا هم تر خولې آه نباسي؛ ځانونه یې داسي ناکاره اچولي دي، چې ته به وایې ړانده او کاڼه دي؛ په داسي حال کې، چې له اشغالګرو پوځونو او د هغو له مزدورو او جنایتکارو ګوډاګیانوسره عملاً هیڅ ستونزه او مخالفت نـه لري؛ وخت و ناوخت وطن تـه په سیل او ساتېري چکرونـه وهي؛ خو بیا هم لـه خپلو خلکو او هیواده لیري پـه پردو ملکونوکي ژوند غوره ګني . د داسي کسانو هرومرو یا په اوږو کې شګه ده یا یې خولې لـه اوبو ډکي دي، چې د حق ویلو جرأت او مرانه نه لري . تر دوی چې تېر سو د هغو کسانو شمېر هم لږ نـه دئ، چې لـه خپلو ظاهري مخالفتونو او اعتراضونو سره سره، د کابل حکومت د وزارت، سفارت، او ولایت مقامونو ته لرموکي ناست دي .

خیر، د دې خبرو د لنډي یادوني مقصد دادئ، چې په هیواد کې اوسېدونکي وطنداران باید پـه خپلـه د یوه ریښتیني ولسي پاڅون د را منځ ته کولو او سمبالولو له پاره لستوني را ونغږي . زموږ دربدلي هیوادوال تر هر چا د دغه آزادي بخښوونکي غورځنګ ښه لارښوونه کولای سي .ګډ هیواد، ګډ درد او ګډ راتلونکی هغه څه دي، چې کولای سي په افغانستان کې د یوه پراخ او پیاوړي ولسي پاڅون لـه رامنځ تـه کېدو سره مرسته وکړي . هغه چا چې د اشغالګرو لښکرو بمبارۍ، ورانکارۍ، محبسونه، تلاښۍ او ځوروني نه وي لیدلي، هغه داشغال پـه غم او درد کله

پوهېږي . دغه راز، هغه چا چي د زور او زر د خاوندانو ظُلمونه او ناروا عملونه د سر په سترګونه وي ليدلي، هغه په اسانۍ سره د يوه ملي او ولسي پاڅون په ليکو کي سربښندني او وينو بهولو ته نه چمتوکيږي .

د خدای په فضل همدا اوس هم په هيواد کي دونه ملي او ولسي شخصيتونه ژوندکوي، چي کولای سي زموږ د خلګو د دغه راز اتلوال ملي او ولسي پاڅون مشرتوب پر غاړه واخلي؛ او په ډېر لږ وخت کي د ټپل سوو نوکرانو ټغر ټول کړي .

زما په دې قاصر عقل خو د ښوزلو او کړېدلو افغانانو د ژغورني له پاره يوازي همدا لاره پاته ده؛ ځکه د جمهوري رياست او پارلمان د شرمېدلو انتخاباتو ډرامه خو اوس نه يوازي افغانانو، بلکي د نړۍ ټولو خلګو له ورايه وليده . د کرزي د مزدور، فاسد او بې کفايته حکومت د تقريباً لس کلني خونړۍ واکمنۍ ريکارډ هم د ټولو خلګو مخ ته پروت دئ . ترڅو ټول په ګډه د اشغالګرو او ګوډاګيانو مخ ته و نه درېږو، تل تر تله به په ذلت او خوارۍ ژوند کي کوو. د ذلت او خوارۍ تر سلو کالو د مړاني او زړورتوب يوه ورځ ښه ده .

هارون خيل